مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۵/۱۰

# د مور وياړلي ورځ




د روژه ماتي او پيشلمي تر منځ واټن لږ دی، نو څکه کله، کله زه نه بیده کیږم. نن سهار چې په درانه خوب بیده وم، کوچني خوی مې میوند جان چې د اووه کلونو دی له خوبه په ډیر لوړ اواز سره راپاڅولم چې:

«پلاره پاځه ، هله ژر شه، ما مغازی ته بوزه، نن د مور ورځ ده، ما ته ګلان او چاکلیت واخله چې مور ته يې ډالی کړم.

پلاره!

«نن په ډنمارک کې د مور ورځ ده، ټول اولادونه مور ته ښه شیان ډالی کوی.»

رښتیا خو دا ده چې له یوی خوا د دې ماشوم احساس او له بله پلوه د زما د هغې مور یاد او خاطرو چې د پلار له مرګ نه وروسته مې هیڅکله د بی پلاری احساس ونه کړ او د هغې له برکته دا هر څه را په برخه شوی دي، زښت زیات وځوریدم، د کارکوټي ته شوم او خورا ډیر مې وژړل، لیږي اوښکي مې تویې کړې او د ژوند د تیرو شیبو د مور د قهر او خوشالیوو میني او محبت مې سترګو او ذهن په پرده کې راښکاره شول.

زه د دنیا ټولو مینډو ته درناوی لرم، رښتیا ما پخپل ټول ژوند کې له مور نه بل دومره مهربانه څوک نه دي لیدلي د مور د میني شانته پاکه مینه به هیڅکله پیدا نه شي.

مور د هر چا وياړ دی،

موری ستا په نشتون کې ډیر یوازی پاتی او هره شیبه د یوازیتوب احساس کوم،

**جنتونه دی نصیب شه موری!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ